# لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ». " نه ضرر رامنځته کول شته او نه بل چاته ضرر رسول، چا چې - بل ته - ضرر ورساوه نو الله تعالی به هغه ته ضرر ورسوي، او چا چې په نورو سختي وکړه الله تعالی به پرې سختي راولي

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ». " نه ضرر رامنځته کول شته او نه بل چاته ضرر رسول، چا چې - بل ته - ضرر ورساوه نو الله تعالی به هغه ته ضرر ورسوي، او چا چې په نورو سختي وکړه الله تعالی به پرې سختي راولي"

[د شواهدو په اعتبار صحيح دی] [الدار قطني روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې له ځان او نورو څخه د هر ډول ضرر او ضرري پديدې دفع کول واجب دي، نو د هيچا لپاره دا جواز نه لري چې خپل ځان او يا نورو ته زيان ورسوي. او ورته روا ندي چې د ضرر په مقابل کې په ضرر لاس پورې کړي، ځکه چې يو ضرر په بل ضرر سره له منځه نه وړل کيږي مگر دا چې قصاص وي، هغه هم له تيري پرته. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کسانو لپاره د ضرر ګواښونه تشريح کړل چې خلکو ته زيان رسوي او د هغه چا لپاره سختي چې په خلکو باندې سختي کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4711

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee